عبدالرحمن الفت ٢٠١٣/٠٩/١١

# د افغانستان د بقا او آرا مۍ په هځه

## د سپټمبر د یوولسمې پلمه د افغانستان د محو کولو دپاره :

د انساني ماهیتونو په معیار افغانستان وژل شوی او یا په ځنکدن کښې دی: د دوو میلیونو نه پورته افغانان په مخدراتو اخته دي ـ د وزګارو افغانانو شمیر په سلو کښې شپیتو او اویاوو ته رسیږي ـ ډېرې میرمنې د ځان په خرڅولو ژوندی دي او ځینې انتحار کوی ـ د رشوت تله تر ټولو درنه ده او د ګوډاګیو بیروکراسي یواځې د رشوت په غوړو څرخي ـ بې امنې د هر چا ژوند په هره لحظه کښې په خطر کښې اچولی خصوصا د هغه چا چه د استعمار پر ضد د وطن د خلاصون هڅه کوی. د امریکې د راتګ سره سم د مخدراتو تجارت آزاد او خوندی شوو ، څو چه MI٦، CIA او د کرزي مامورین په یو مافیائي ابدي ورورولۍ کښې سره راټول کړي ، او پخوانیو جنګسالارانو ته د سلاح او د بقا لارې خلاصې کړي، چه افغانستان یوې داسې لویې خونړۍ صحنې ته اماده کړي چه د ناټو او امریکې بربریت پکښې له یاده ووځي، او د روس د وتلو نه وروسته صحنه بیا تکراره شي.
د کرزي دیارلس کلن حکومت ـ د امریکې په اشاره ـ نه یواځې صلحې ته زمینه نده برابره کړې بلکه د صلحې په نوم ئې د طالبانو او تحالف شمال په مینځ کښې د ابدي عداوت او انتقام احساس لا ژوندی کړ: یو طفل هم پوهیږي چه د صلحې د پاره بیطرف او د خیر کسان پکار دي نه د طالبانو دښمنان چه پرله پسې د صلحې د کمیټې ریاست په غاړه اخلې او د غټې بودیجې په واسطه هغه کارونه کوی چه د انتقام احساس ورسره لا قوت مومي.

د کرزي د تعقل نه بهر کارونه، او د امریکې د لښکرو د اخلاقو نه بهر ناکردې، په اصل کښې سره بیل ندي او ستراتیجیکي انسجام لري: په افغاني ناموس باندې تیری؛ د قرآن سیزل؛ په مړو باندې متیازې؛ او د کابل د سیند نه ډېران جوړول او د مخدراتو معتادانو ته پکښې پناه ورکول؛ او وطن ته راستون شوي افغانان، په ژمې او اوړي کښې، په خیمو کښې ساتل؛ او ناروغان پاکستان ته په سفر مجبورول؛ او نور او نور؛ افغاناتو ته خدمت ندی، بلکه د هغوی کرامت او عزت تر پښو لاندې کول دي؛ چه یو مغرور استعمار پرې د غرور تنده ماتوي؛ او بهیر شوي رشوتونه د ترلیونو ډالرو په زور دغه کړندلار خوندی ساتي.
د بشر په تاریخ کښې د غربي استعمار غرور دوهم مثال نه مني، دوی د خپلوځلوروسوو کالو استعماري ناکردو په هکله اصلي سوالونو ته ځواب نلري: چیرته دي د امریکا اصلي خلک (سور نسل)؟ د افریقې خلک چا غلامان کړل او ثروت ئې چا چور کړ؟ ولې لاتیني امریکا ، سره لدې چه عیسویان دي، امریکې ته په نفرت ګوري؟ په دغه لویه تاریخي صحنه کښې، د افغانستان د راتلونکی ژوند اټکل د غرب تر استعمار لاندې، څه ګران کار ندی.

د کرزي حکمفرمائي د بشري منطق تابع ندی، دی یا ما فوق بشر دی او یا ئې ماغزه د امریکائیانو په مدار کښې څرخي چه زمونږ د فهم نه پورته دی. او که نه، نو ولې د بن لادن د نیولو په هڅه افغانستان او عراق باندې په یورانیوم سمبال شوي بمونه په زرهاوو وغورزول شول، چه مستقبل نسلونه هم تباه کړي، پنځوس میلونه امریکایان د بودیجې د نشتوالي له امله فقر او فلاکت ته وسپارل شول، او په اخره کښې بن لادن په یو پولیسي اسان عمل کښې له مینځه ویووړل شو (دا چه اصلي قصه څه ده چا ته یې پته نشته خو عالم ته دغه قصه ورمنله شوې.)؟ د دومره آسان کار د پاره ولې هم ځان او هم جهان ځورول ؟ خان ئې په عالم کښې وشرماوه او د حماقت او غرور لوی مثال یې په تاریخ کښې ثبت کړ؛ کرزي هم پخپل قوم کښې ځان وشرماوه، او با عزته ملت ئې امریکایانو ته مریان کړ، او لړیا دی چه د ابدي مرئیتوب سند هم ورسره لاس لیک کړي: «اګه به نفع ما باشه چرا نمیکنیم».

که څوک غواړي د دغو نارواوو کارونو اصلي نیلې او ریښې وڅیړي نو د امریکې د ډېر پیاوړي مورخ Webster Griffin Tarpley کتاب (Synthetic Terror/٩ Made in USA:١١ ) ته دې مرا جعة وکړي چه څنګه دا جهنمي افکار د شیکاګو د پوهنتون یو استاذ ، لیو شتراس Leo Strauss، د هتلر د مخور قانون پوه Carl Schmitt څخه اقتباس کړل، او بیا ئې د Chicago په پوهنتون کښې خپلو شاګردانو ته تلقین کړل، چه د Neocon ډله، د ډاکتر زلمي خلیل زاد په شمول، پر دغو افکارو وروزل شول. همدغه ډله، په ګډه سره، د امریکې د جمهور رئیس (د جورج بوش دځوی) په راتلو سره قدرت ته ورسیده، د سپټمبر د یوولسمې پلمه ئې عملي کړه، چه پدې ترتیب ئې د امریکې قهر او غضب ته لاره خلاصه کړه چه د قهر او دهشت له لارې خپل پلانونه عملي کړي: ټول امریکان د د دهشت په سبب د غرور هغو جګو څوکو ته وختل چه د هندوکش څوکې ورنه ترلاندې وي او د انتقام احساس ته د الوتنې ساحه پکښې بې قیده وه، او پدې صورت ټول ملت د مسلمانانو وینو ته تږي شول او جنګ ته اماده شول او دغه خبیثه ډله خپل شیطاني هدف ته لاره پیدا کړه. او بیا د همدې ډلې ډېر موثر غړي، د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

رئیس جمهور معاون «دک چیني»- جمهور رئیس ئي ولمساوه چه جنګ دده د اعتبار د اوچتولو یواځینی وسیله ده، او خصوصاً په امریکا کښي چه سیاست د غرور په مدار کښي څرخي.

په نتیجه کښي، افغانستان او عراق کښي جهنمي افکار پلي شول او دواړه خاوري ایري شوې.
د سپتمبر د یوولسمي پلمي په باره کښي زښت زیات کتابونه لیکل شوي خو پورتنی لیکوال د لوړ خیال او ژوري کتني په سبب ځاری نلري. بل د ژوندي ضمیرخاوند (Alan Sabrosky ) دی چه د امریکي په عسکري او نورو مشهورو پوهنتونو کښي استاذ دی، او یهودی هم دی، او په ډیر شدت سره دا کار د اسرائیلو د جاسوسی د مؤسسي کار ګڼي او ډیر قوي اسناد او دلائل هم وړاندې کوی.
زما خپله مقاله پدې باب د عراق د حملي نه وروسته خپره شوه:

From AxisofLogic.com
CRITICAL ANALYSIS The West in Search of Beauty and Muslims in Search of Justice By Dr. Abderrahman Ulfat* Dec ٥, ٢٠٠٤, ١٨:٠٣

چه پکښي دا په وضاحت لیکل شوي وه چه د سپتمبر حمله د عربو او مسلمانانو د علمي او تخنیکي استطاعت نه اوچته وه او نا ممکنه وه چه څو تنه عربان جټ طیارې په عالي مهارت سره له مسیر نه وګرځوي او په برجونو ئي ابغ نیغ برابرې کړي ؛ دا د ډیرو مجربو خلکو کار وه چه د امریکي د استعماري هدفونو د پاره ئي دا کار وکړ ، چه ددې هدفونو په سر کښي د مسلمانانو تباه کول ، د چین مقابلي ته ځان چمتو کول ، او په پترولي منابعو باندې حاکمیت لرل وه ؛ او زه اوس هم په همدې نظر یم.
غربي استعمار د افغانستان د تجزیي په هڅه او د ګاونډیانو تلوسه :
افغانستان د خپل ستراتیجیکي موقف په سبب د آسیا او اروپا د مسیر په سمبالولو باندې دوامدار تأثیر لرلي او وبه ئي لري . او دا تأثیر دنیا ته هلته څرګنډ شو چه افغانانو شوروي ولړزاوه او په نتیجه کښي ډیر هیوادونه په آسیا او اروپا کښي خپلواک شول او د نړۍ جغرافیه بدله شوه . انګلیسان د افغانستان د دغه جوهر له مینځه وړلو ته ډیری هلي ځلي وکړې کوم چه علامه اقبال د شعر په ژبه بیان کړی :

آسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از فـسـاد او فـسـاد آســـــیا
در گـشـاد او گشاد آســـــیا

انګلیسان، د امریکایانو د جنګ ابدي ملګري ، په انتقامي جذبه افغانستان ته بیا داخل شول او هلمند ئي د عملیاتو مرکز وګرزاوه. په چین کښي د تاریاکو د رواجولو پخواني سیاست نه ئي کار واخیست او کرنې ته ئي توسعه ورکړه څو چه MI٦ او CIA په ګډه وکولی شي له دغي لارې خپل عملیات تمویل کړي او د بیروکراسی د قید او نظارت نه بهر په آزادۍ سره د افغاني جامعي فاسد کولو باندی لګیا وي: فاحشه خاني بې د خپلو لښکرو د رضا د پاره پرانیستل؛ او د اخلاقي اضمحلال په ذریعه ئي افغانستان جسدي تجزیي ته آماده کړه. او دا هغه ګډ هدف وه چه ناټو او امریکا ورته چمتو شوي راودانګل چه د افغان کور له اساس نه نسکور کړي.
د (جورج ټینټ George Tenet) د امریکي د استخباراتو CIA د رئیس د توصیي په اساس حامد کرزي ته د افغانستان واک وروسپارل شوچه د «باب وودوارد» په کتاب کښي په مفصل ډول لیکل شوی:

[Bob Woodward, Bush at War, Page ٢٤٨]

او د همدغه کتاب په استناد پنځه اتیا ملیونه ډالري د تحالف شمال مشرانو ـ په شمول د عبدالرسول سیاف ـ ته ورکړې شوې چه دامریکي استعمار ته هرکلی ووایي . پخواني پادشاه هم راوستل شو څو چه د خلکو تائید ګوډاګي حکومت ته جلب کړي . او دون همتي هغه حد ته ورسیده چه تعبیر ئي خوشحال بابا کړی او علامه اقبال ئي د شعر په ژبه ترجمه کړي:

أشتري یـابـد اګـرافغان حُر
با یراق و ساز و با انبار دُر
هـمت دونش از آن انبــار دُر
میشود راضــي با زنګ شتر

یو فاسد حکومت د دیارلسو کلونو د پاره خوندی ساتل څه د لیلی او مجنون قصه نه وه، چه مجنون په لیلی کښي عیب نه ویني،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

بلکه د کرزي «ګندګي» د افغان د ملت د تباه کولو د پاره ډېره ښه وسیله وه او ده. د نوي استعمار پلان په ډېر تدبیر طرح شوی دی، او هدف ئې د افغانستان د اصالت او هویت محو کول دی. دا ځکه چه افغانستان د تأریخ په اوږدو کښې د هر استعمار مخه نیولې او غربي استعمار د افغانستان په تاریخي دریځ ښه خبر دی. نو ځکه غرب پخپل ګډ استعماري تړون کښې دې فیصلې ته رسېدلی چه هغه درې هېوادونه چه د غرب د استعمار پر ضد درېدلي ـ افغانستان، الجزائر او عراق ـ یا باید مهار کړی شي او یا محو شي. او پدې هم پوهیږي چه په خلاف د الجزائر او عراق، افغانستان مهار کولو ته غاړه نږدي او د محو کولو نه پرته بله چاره نشته.
که چیرته د استعمار هدف، د دوی د خپلې ادعا سره سم ، محض انساني وای، نو تر سره کول ئې ډېر اسان کار وه: یوه با عزمه اداره کولې شوای چه د افغانستان د تقریباً درېو سوو علاقداریو په چوکاټ کښې خلکوته د ضروریاتو مطابق کومکونه وکړي؛ او د شدید فقر په حالت کښې حتی نقدې پیسې ورووېشي؛ او پدېصورت به هم کومکونه د خلکو د رفاه سره سم سمبال شوي وای او هم به ژبني، عرقي او مذهبي اختلافونو نه بهرپاتې وای؛ او که چیرته یوه اداره ناکامیدله، تغییر پکښې راوستل کوم ګران کار نه وه؛ او پدیصورت نه طالبان، او نه نور، د بیرته راتګ سوچ وهلای شوای. داسې یو کړندلار د امریکې د کار پوهو د تدبیر نه بهر نه وه، خو انساني پیرزوېنې ته بې ضرورت لروده، چه د دوی په قاموس کښې ورته ځای نشته.
د سپتمبر د یوولسمې پیښه یوه تمهیدي پلمه وه چه د نړۍ د اغوا او غولولو دپاره جوړه شوه او ناټو ته یې د آزادۍ مانورې زمینه برابره کړه څو چه وکولی شي چه افغانستان ګوډاګیانو ته وروسپاري څو چه هغوی ئې په ګډه اخلاقي بنسټ ونړوي او د آزادۍ روحیه پکښې ووژني، او وروسته به ګوډاګیان د ملت د محاسبې توان ونلري او د ځان د بقا د پاره به د افغانستان د تجزیې نه بغیر بله چاره هم ونلري.

امریکا د افغانستان تسخیر او یا تجزئه د (آسیا ـ اروپا) Eurasia د تسخیر ضروري مقدمه بولي . ستراتیجیکي پوهانو ئې ورته له پخوا پلان سنجولی: افغانستان د EURASIA په قلب کښې ځای لري او ډېر لوی ثروتونه په افغانستان کښې پراته دي چه هم روسانو او هم امریکائیانو ورته سترګې نیولې دي ؛ دا ځکه چه دا ثروتونه هغه نادر معادن دي چه معاصر تخنیک او صنعت ته هماغه اهمیت لري لکه چه پټرول ئې د لمړي جهاني جنګ نه تر اوسه لرلی: (د غرب قبضه په پټرولو باندې، په دوهم عمومي جنګ کښې، د دوی د کامیابۍ سبب شو؛ په یوویشتمې پیړۍ کښې به همدغه نادر معادن د پټرولو دور ادا کړي).
تر اوسه پورې په انحصاري پیمانه په چین کښې پیدا کیږي چه نورو ته ئې نه صادروي. افغانستان، د چین او د امریکې د رقابت میدان ګرزېدلی، خو چین په ډېر حکیمانه صورت، د غټې سرمایه دارۍ په پلمه، پکښې پښې غزولې او د امریکې څارنه کوي. له همدې کبله امریکا غواړي تر ابده په افغانستان کښې پاتې شي، او دا د افغانستان د دفاع په خاطر ندي ـ همدا اوس د امریکې دټول طاقت سره سره د پاکستان د حملو مخه نه نیوله کیږي . اصلي هدفونه ئې دادي : د عیسویت خپرول، د چین سره د ډېر احتمالي جنګ د پاره تیاري نیول، په نادرو معدنونو باندې کامل تسلط لرل، او د افغانستان پر ژوند قبضه آچول چه د نام و ننګ خبرې پکښې نوي.
او د معادنو د استغلاله سره به د افغانانو ژوند لا بدتر شي او افغانان به په یوه ژبه ووایي: «نخوردم از آشش کور شدم از دودش»، کله چه وګوري چه سیندونه او کارېزونه ئې له زهرونه ډک دي، او شتمن خلک لا شتمن شوي، او یا کرزي او یا له هغه نه لا زیرک ګوډاګی او داړه مار د وطن چارې په میراثي توګه په لاس نیولي .

د هغو ستراتیجیکی پوهانو نومونه او مهم کتابونه چه په (آسیا ـ اروپا) EURASIA باندې د نوي استعماري غورځنګ موسسین دي دا دي: (ساموېل هنټنګټن)، شدید صهیونست، چه « د مدنیتونو تصادم» کتاب ئې ولیکه او غرب ئې د مسلمانانو په دښمنۍ وپاراوه، او د سپټمبر د یوولسمې پیښه ئې عملي نتیجه وه؛ (برنارد لووس) کوم چه کتابونه یې پدی هکله ډېر دي، صهیونستي یهودی دی چه د هر چا نه زیات د اسلام پر ضد لیکني کړي او امریکائي او اروپائي سیاسي رهبران ئې مشورو ته انتظار باسي، د Eurasia او د شرق الاوسط د تجزیې نقشه ئې تهیه کړې چه د سوډان تجزیه ئې لمړنی عملي مثال دی.
(ژبګنیو برژنسکي) بل نامتو یهودی چه روس ئې وپرزاوه چه افغانستان ته لښکر ولیږي ، پدې حساب چه هلته به شکست وخوري، لکه څنګه چه امریکا په ویتنام کښې وخوړه، او انتقام ئې ترې واخیست ؛ دی غواړي چه (ناټو) د اسلامي هیوادو د ټک وهلو د پاره چمتو وي، دی د نوي استعماري غورځنګ قوي ملاتړ دی اوخپل کتاب ئې «د شطرنج پراخه تخته: د امریکې والاشاني او استراتیجیکي نړیوال واجبات ئې» پدې هکله لیکلی . بل یهودی (هنري کیسنجر) د دې ډلې اولنی مشر دی، چه نورو ته ئې لاره خلاصه کړې، او د دنیا د سیاسي مشرانو په وژلو کښې متهم دی. دا ډله په ګډه امریکا او غرب جنګ خوا ته بیائي چه غټ شرکتونه پکښې ګټې وکړي چه دوی ټول ورسره تړلي دي.

روسیې ته د افغانستان تجزئه د پخوانیو مستعمرو د مهار کولو او بیا تر قبضې لاندې راوستلو وسیله ده، نو ځکه له پخوا نه هم ورته زیاته تلوسه لري او د امریکې په رقابت د افغاني جسد څیرولو ته د لیوه په څیر د صحنې نظارت کوي.
د ایران رهبران د پخواني امپراطورۍ خوبونه د عمامه په پیچ او تاو کښې ویني، او امپراطورۍ ته لازمه ذروي سلاح د تقیې په ستر و اخفا کښې جوړوی. او ددې په انتظار کښې دي چه د هرات ـ غور ـ هزارجات او د کابل په شمول تر بدخشانه پورې د امپراطورۍ لمنه پراخه کړي څو تاجیکستان ته ورسیږي او پخوانی پارسي امپراطوري بیا ژوندی کړي ، خصوصاً چه دا ځل

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

بیا ئې د «عمر» سره مقابله ده.
هند او پاکستان د ځان د ساتنې د پاره ښائي د افغانستان تجز يې ته غاړه نږدي: دواړه لدې ډاربږي چه تجزئه به لر او بر پښتانه یو کړي، او د ډیورنډ طلسم او د بیلتون جادو به خنثی شي، اوبه به بیا په طبیعي غورځنګ راشي، او د هند د قارې تأریخي صحنې به بیا تکرار شي. او دا چه پاکستان هم د چین اوهم امریکې، دواړو، سره سر خوځوي، تر ټولو لویه معضله ده، چه په نتیجه کښې د متناقضو سیاستونو سرچینه ګرزېدلې، کرزي ورته هک و پک پاتې دی او نه ئې ژړا او نه ئې خندا نتیجه ورکوي.
دا چه ایا پاکستان افغانی مقاومت دې ته مجبوروله شي چه د ډیورنډ په ابدیت باندې اعتراف وکړي ـ لکه چه تحالف شمال خیانت و مانه او روسیې ته ئې د جنګ تاوان وروباښه ـ او پدې ترتیب افغنستان د آزادې سمندرۍ لارې نه محروم کړي، او خپل تسلط لاندې وساتي ، دا ټول هغه سوالونه چه د ایمان او امانت مینان په ځیر ورته ګوري او د مقاومت «افغانیت او اخلاص» پرې تلي .
هند نشي کولی چه کشمیر باندې خپل استعمار وساتي ، هند ته په کار دی چه د چین د رقابت نه بهر ـ په ځانګړي صورت ـ د ترقۍ لاره غوره کړي ، او د ګاندي ارزوګانو ته د عمل جامې ورواغوندي ، او د فقر د معالجې هڅه وکړي ـ چیرته چه پاکستان قدم اخیستو ته چمتو ندی ـ او پدېصورت دنیا ته د استعمار نه لرې یوه بله لاره و ښیي چه حتی چین ئې هم تقلید ته مجبور شي او د هغه احتمالي جنګ نه ـ چه امریکا ورته تلوسه لري ـ هم ځان وژغوري او هم جهان .
ایران ، پاکستان او افغانستان ، دریواړه ، باید پدې پوه شي چه د خلکو په حق کښې دریواړه پړ دي: [ د علی رضی الله عنه د فقر ژوند او بلیونران آیاة الله ګان سره نه جوړیږي ـ په پاکستان کښې د لاهور او سند سرمایه دارو هر یو پخپل وار د پاکستان خلک چور کړي ـ ا وپه افغانستان کښې غله د انترپول له خوا حمایه کیږي] . او د خلکو بدبختي د دریواړو د کمزورۍ سبب دی . که دوی خلکو ته په رښتیا خدمت وکړي ، د دوی په مینځ کښې اختلافات به په خیرغوښتنه کښې حل شي ، او د شیعه او سني اختلاف به په فقهي بحثونو بدل شي او شخړو ته به ځای نوي . خیر غوښتنه او خلکو ته خدمت به حتی د دریواړو وحدت ته لاره خلاصه کړي ځو چه په راتلونکي احتمالي نړیوال جنګ کښې د تباهۍ مخه ئې ونیسي .
د ډېرو نوو حوادثو توقع په هره لحظه کښې کیدای شي ځکه چه لوی قدرتونه ځانونه جنګ ته چمتو کوی ، امریکا له هر چا نه زیات ، او دنیا نوي جغرافیې ته ځان سمبالوي . افغانانو ته ښائې چه هم فرصت غنیمت وګڼي او هم خطر ته په سپکاوۍ ونګوري.

د علماوو او منورینو ناکام دریځ د روسي او امریکني استعمار په مقابله کښې :
دیني عالمان په دنیا کښې یا شته نه، او یا د عزلت په ګوښه کښې ژوند کوی؛ که داسې نوای، مسلمانان به د اوسني ذلت او حقارت سره مخامخ نوای. قرآن عظیم الشان د عالمانو تعریف د علم په کلمه ندی کړی بلکه د خدای ډار ئې ورته معیار بللی: «إنما یخشی الله من عباده العلماء»، یعنې عالم هغه څوک دی چه د خدای جل جلاله ډار تر تأثیر لاندې ژوند کوي او په نتیجه کښې د اصلاح او حق ویلو په ډنده کښې، لکه پیغمبران، له هیچا نه ډاربږي. که په دغه صفت په افغانستان کښې عالمان پیدا شوي وای دوی به یو موټې وای او په هر حزب کښې به خوندي نه اوسیدل؛ بیا ئې کولای شوای چه د احزابو د ناکردو او په ملت باندی د بزکشۍ مخه ونیسي، احزاب سره متحد کړي، او افغنستان کښې استقرار راولي او پرېښږدي چه هر حزب وطن سره غدر وکړي، او پردو او ګاونډیانو سره لاس یو کړي؛ او پدې کار کښې ملت هرومرو دوی سره درېده او د خدای تائید به خامخا ورسره وه چه وکولی شي چه حتی د زعامت مسئله هم د ملت په رضا حل کړي. د دوی چه څومره مقام لوړ دی (او ورثة الانبیاء دي) په هماغه اندازه ئې مسئولیت درونډ دی. خو ډېر دي هغه «علما» چه د خلکو له خوا احترام د ځان حق ګڼي خو د درونډ مسئولیت نه سر غړوي.
د دې دپاره چه د علماوو ډنډې ته ښه ځیر شو ، ښائي چه یو تأریخي اصل باندې پوه شو ، او هغه داچه غیر مسلمان ملتونه د ډېرو معقدو کړکیچنو د حل د پاره خونړیو انقلابونو ته لاس وروړي چه د دوی تاریخ پرې شهادت ورکوي : لکه د انګلیسانو لوی انقلاب ، د امریکې انقلاب ، د فرانسې انقلاب ، او د ټولو نه خونړۍ ، د اکتوبر انقلاب (چه د شولزنیتزن د بیان په اساس ، د ۱۹۱۷ تر ۱۹۵۹ پورې ، ۶۶ ملیونه پکښې ووژل شول) ، او د چین خونړی انقلاب (چه د وژل شوو شمیر ۷۰ ملیونو ته ورسید ) ، او داسې نور . او دغه انقلابونه د جامعې ټول پخواني ، عنعنوي ، معاییر او مفاهیم ئې ونړول او نوموړو جامعو ته ئې نوي بنسټونه کښېښودل .
اسلام ، چه د اسلامي جامعې بنسټ ئې ایښی ، نشي منلی چه دا بنسټ ړنګ شي . اسلام د دغو خونړیو او د بنسټ نسکور کوونکو انقلابونو ، د مخنیوی ، او د کړکیچنو لانجو د حل دپاره ، د (امر بالمعروف او نهی عن المنکر) تجویز کړی او مسلمان ملت ئې په همدې صفت ستایلی او اهل کتاب د دې اصل د نه منلو په سبب فاسق شوی ګڼلی : «کنتم خیر امة اخرجت للناس تأمرون بالمعروف و تنهون عن المنکر و تؤمنون بالله و لو آمن أهل الکتاب لکان خیراً لهم منهم المؤمنون و اکثرهم الفاسقون (آل عمران : ۱۱۰)» . ددې اصل په خوندي ساتلو سره جامعه ځان اصلاح کوي او د بیلتون ، اختلاف ، او تفرقې مخه نیسي ، او نه پریږدي چه د ظلم او فقر او فساد په سبب خونړیو انقلابونو ته ضرورت پیدا شي : «و لتکن منکم امة یدعون الی الخیر و یأمرون بالمعروف و ینهون عن المنکر و أولئك هم المفلحون (١٠٤) و لا تکونوا کالذین تفرقوا و اختلفوا من بعد ما جائهم البینات و أولئك لهم عذاب عظیم (١٠٥) آل عمران» .
خو متأسفانه چه دغه اصلاحي اصل تر اوسه یا د حکومتونو په ګټه ورنه استفاده شوې او یا په وحشي شکل استعمال شوی چه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

د عامو خلکو په ذهن کښې ئې بد اثر پرېښی ، او له ټولو نه بد تر ، ځینې پیاوړي علما هم ددې اصل په قدر ندي پوه شوي: یو مثال ئې جناب پروفیسور سیرت صاحب دی . کوم وخت ( ۲۷/۸/۲۰۱۲) چه ده خپله طرحه د افغانستان د مشکل د حل په هکله د «پیام افغان» په تلفزیون کښې وړاندې کړه ، او د یو نوي حزب په جوړولو غږېده ، ما فکر وکړ چه یو نوی حزب به د سلهاوو حزبونو په سیند کښې کوم تاثیر ونلري ، او سیرت صاحب به د دوهم ځل دپاره په سیاسي لوبه کښې ناکامۍ سره مخامخ شي . په مقابل کښې ما ورته د «امر بالمعروف» د اصل د خوندي کولو پیشنهاد وکړ چه هم به د ده د علم سره سمون ولري او هم به د افغانستان د اختلافاتو او د استعماري قواوو د پلانونو د شنډولو د پاره یو قرآني حل وی . ده زما پیشنهاد ته دا ځواب راکړ چه «امر بالمعروف» نورو مجالاتو کښې استعمالیدی شي اما د اوسنۍ لانجې د پاره مناسب ندی . څه رښتیا هک و پک پاتې شوم ځکه چه د ده ځواب د ده اسلامي فهم تر سوال لاندې راووست ، او څه حاضر وم چه خپلې پوهې باندې شک ولرم خو د ده پوهه راته ثابته وه . لکن څو کاله د مخه د یوې لوبې مقالې د لیکللو په ترڅ کښې زه دې نتیجې ته هم رسیدلی وم چه کله کله د لویو عالمانو سهوې د لوړو غرونو د سیورو په شان تورتم جوړوي چه ډېر شیان ترې لاندې پټ شي .
قصه داسې وه چه Michael Cook د پرنستون د پوهنتون یو استاذ ما ته د خپل د کتاب :
« Commanding Right and Forbidding Wrong in Islamic Thought د امر بالمعروف او نهی عن المنکر اساس په اسلامي فکر کښې» تر عنوان لاندې ، سپارښت وکړ او ما وعده ورکړه چه څه به ئې ولولم . د کتاب د لوستلو وروسته ما پرې د ډېرشو صفحو نه پورته تقریظ ولیکه او مؤلف ته مې ورواستاوه خو د وعدې په خلاف کوم ځواب ئې رانکړ .
د «مایکل کوک» اصلي اعتراض دا وه چه قرآن سره لدې چه «امربالمعروف او نهی عن المنکر » ته ئې په اسلام کښې لوړ مقام ورکړی خو په هیڅ ځای کښې ئې د «معروف» او «منکر» تعریف ندی کړی ، او د ده په زعم ، دا نقصان د دغه کتاب منطقي اساس له مینځه وړي .
د ده دغه اعتراض د ده په ناپوهۍ او حماقت دلالت کوي. که قرآن کریم «معروف» او «منکر» د تعریف په ذریعه منحصر او محدود کړی وای، خپل دوام او عمر به ئې هم ورسره محدود کړای وای ، او ټولو عصرونو ته به د هدایت او ارشاد مصدر نشوو پاتې کیدای - په بل عبارت دا کار به د قرآن کریم خاتمه وای . د قرآن کریم حکمت په همدې کښې دی چه «معروف » او «منکر» ئې محدود کړی ندی څو چه د هر عصر د مقتضیاتو سره سم وتاکل شي چه د هماغه عصر مشکلات پرې حل شي.
[لږ څه وروسته به لوستونکي وګوري چه د افغانستان د استقرار او ارتقا دپاره «معروف» او «منکرات»، زما په نظر، څه دي]. یو صهیونست به څنګه د خدای په کتاب اعتراض وکړي او ځان ونه شرموی؟ خو «پرنسټن» څنګه دې احمقانو ته ځای ورکوی؟ چه یواځې اسلام باندې بې ځایه حملې وکړي ؟
خو مهم ټکی چه موضوع پورې تړلی دی ، دا دی چه په کتاب کښې دا هم لیکل شوي وو چه جناب سید قطب «امر بالمعروف او نهی عن المنکر» ته په ډېر اهمیت قائل ندی او د غټو مشکلاتو د حل د پاره ئې مؤثر نه بولي . ما د سید قطب تفسیر «في ظلال القرآن» ته مراجعه وکړه او ومې لیده چه د پروفیسور «کوک» ادعا رښتیا وه . مرحوم سید قطب اوجناب سیرت صاحب دواړه د سیاسي ملحوظاتو تر تاثیر لاندې د دغه لوړ اصل په فهم کښې ناکام شوی او د قرآن صریح نص ته ئې پام ندی کړی : او هغه دا چه «امر بالمعروف او نهی عن المنکر» د تفرقې او اختلاف د حل وسیله ده .
که جناب سید قطب «اخوان المسلمین» د قدرت طلبۍ نه اصلاح طلبۍ ته ګرزولی وای مصر به د اوسني مذلت نه په امان کښې وای . جناب سیرت صاحب هم که د اصلاح لاره ونه نیسي ډېرې ترخې ناکامۍ سره به لاس په ګریوانه وي ، و لو که زر وعدې ورکړې شوي وي چه «دا ځل به د ده وار وي». [علاقمند لوستونکي کولی شي چه د Google او یا په بله واسطه د Abderrahman Ulfat تر نوم لاندې ځما مقاله تر لاسه کړي او پر تفاصیلو ځان خبر کړي] .
د افغانانو جهاد د کمونیستانو په مقابل کښې د ټول ملت په ګډون ځکه خوندی وه چه ملت پوهیده چه اسلامي بنسټ نړول د کمونیستانو اصلي هدف وه. د ملت قیام د احزابو د قیادت له برکته نه وه، بلکه احزاب د جهاد په جریان کښې یو خنډ وو. د احزابو مشران تر اوسه ندي پوه شوي چه څرنګه چه د (احزابو) کلمه په قرآن کښې مردوده او منفوره ده، د دوی ناکردې ملت مجبوره کړه چه په دوو جبهو کښې قربانۍ ورکړي: د دوی د ورور وژنې په جنګونو کښې او د روس سره د مقابلې دپاره، او دا ټول د «علماوو» په حضور کښې وشول. او اوس هم هماغه علما د امپریالیستانو په ګټه خطبې ورکوی. خو لکه څنګه چه افغان ملت په ډېرو خطرناکو مرحلو کښې بې رهبره او حتی د «رهبر» د غدر او خیانت سره سره د دښمن په مقابله کښې درېدلې، د روس سره مقابله د همدغو خطرناکو مرحلو یو بل مثال وه. که چیرته « د حقیقت ورخ » د الفت صاحب په تعریف تجلا وکړي:

چه پلو له مخه لـــــری د هر چـا شي — دا رنـګـینـی جامې څیرې د ریا شي
حقائـــق ټول را بهر شي لـه حجابـــه — پټ کارونــه راڅرګند زما او ستا شي
که رازونـه که رمزونه که اسرار دي
لکه ستوري د اسمان هسې رسـوا شي
مـقـصـدونــه غـرضونـه عمـلـونـه — بې پردې او بې ســـــیرته برالا شــي
د تلبیس ښایسته رنګونه ټول شي محوه — پخپل څیر ښـــکاره روا او ناروا شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د هر چا په زړه چه هر څه وي ليکلي — دی پخپـــــــله د هغه نقش ګويـا شي
هغه دغـه ښه او بد مخـونه لـوڅ کړي — تـوره شپه له مينځه لاړه شي سبا شي
ليک دحق او حقيقت وي پهرلاس کښې — د تيارو شپو واقعات واړه رنـــــا شي
ډېر ښايسته او سپين مخونه به تک تور وي
ډېرښاغلي به په دغه ورخ سر تور وي

په افغانستان کښې هم روس او هم امريکا فساد او اختلاف ته لاره اواره کړې او سل په سلو کښې مطمئن دي چه افغانان به پداسې داخلي جنګ کښې اخته شي چه د روس او امريکې ټولې ناکردې به پکښې له ياده ووځي او نومونه به ئې له سره صيقل شي. امريکا دغه جهنمي پلان په عراق کښې عملي کړې، او ورسره ئې د اسرائيل ډير غښتلی رقيب ئې خپل غم کښې داسې اخته کړې چه اسرائيل په اسانۍ سره سا وباسي. د دغه پلان تطبيق په افغانستان کښې، د عراق د تجربې نه وروسته، لا اسان کار دی. افغانان بايد عراق ته وګوري څو چه د راتلونکې صحنې سوچ وهل ورته آسان شي.

افغانستان د تجزئې نه ژغورل او د داخلي جنګ مخنيوی :
مونږ نشو کولی چه د افغانستان قضيه د اسلام نه بهر وڅيړو. الله سبحانه وتعالی، افغانستان ته د انګليس شيطنت، د روس شراست، او د امريکې او اروپا ګډ بربريت، ټول، ورپه برخه کړل، او دا ټول الهي آزموينې وې. او بل کوم ملت داسې آزموينو لاندې ندی راغلی. که دغه يرغلګر قوتونه د خير قوتونه وای ، نو دغه خدائې آزموينې به آفتونه وای چه افغانستان باندې نازل وو ، او افغانان به د (عاد) او (ثمود) او نورو قومونو په شان د تباهۍ نه بله لاره نه درلوده. خو حقيقت دا دی چه انګليس، روس، او امريکا، ټول استعماري قوتونه او د شر او فساد لښکر دي چه افغانستان باندې ئې په نولسمه، شلمه، او يوويشتمې پيړۍ کښې حملې را وړې. د بربريت د دې لوړو مثالونو سره مقابله خدای (ج) د افغان د ملت په غاړه کړه، او د درې واړو شان او شوکت ئې د همدغه ملت په واسطه له مينځه ويووړ. دا چه خداي (ج) مغرور قوتونه د بيوزلو په کم قوتۍ ماتوي، د حق او حقانيت د اثبات دپاره معجزه ده. « کم من فئة قليلة غلبت فئة کثيرة باذن الله والله مع الصابرين ».
افغاني مقاومت پر حق ولاړ دی او امريکا چه د ويتنام د جنګ نه وروسته لړزيدلې وه اوس زوال ته نږدې ده . دغه الهي اختيار ، د ظلم د مواجهې د پاره، ډېر اوږد تاريخ لري ، چه يو لنډ مثال ئې دا دی : کله چه (امويان) د حق د لارې نه واووښتل او اسلامي حکومت نه ئې د ظلم امپراطوري جوړه کړه ، د هندوکش د شمال نه يو لوی رهبر (ابو مسلم خراساني) پاڅيد او حکومت ئې عباسيانو ته وسپارله . او په اسلامي تاريخ کښې ئې لوی بدلون راووست . له دې نه مخکښې هم د هندوکش د شمالي او جنوبي لمنو نه قهرمانان پاڅيدلي او د متجاوزينو لښکرو سره جنګيدلي .
دغه الهي ازموېنې ، د افغانستان په خلکو کښې داسې طبيعت روزلې چه هرې مقابلې ته ئې چمتو کړې ، چه حتی ناټو ئې تيښتې ته مجبوره کړې ده . د افغانانو تاريخي دريځ د تيري په مقابله کښې يو الهي نعمت دی او په عين حال کښې د «افغاني مليت» اصلي عنصر دی ، چه د افغانستان شتون ئې د تاريخ په اوږدو کښې تضمين کړی . او د اوسني استعمار په مقابله کښې هم دا تضمين حتمي دی : امريکا به ونشي کړی چه افغانستان تجزئه کړي : « و لن يجعل الله للکافرين علی المؤمنين سبيلاً » ( سورة النساء ، ۱۴۱) . و لکن خدائی مدد او نصرت د بندګانو چمتوالي او جهد سره انسجام لري او ورنه نه بيليږي : « إن الله لا يغيير ما بقوم حتی يغييروا ما بانفسهم » ( الرعد ، ۱۱) .
نو اساسي سوال دا دی چه د کومو ماهيتونو او اخلاقي اساساتو په اساس به افغانستان بيرته په پښو ودريږي او څنګه به د داخلي احتمالي جنګ مخه ونيوله شي ؟ او د دې سوال د ځواب په ضمن کښې هغه طرح وړاندې کوم ، چه ځما په نظر ، هم به ، انشاءالله ، د افغانستان وحدت وساتي او هم به د حقيقي ترقۍ لاره خلاصه کړي .

د افغانستان د لانجو د حل دپاره مناسب «معروف» او «منکر» دا دي :

- کله چه بشريت د بربريت او وحشت څخه فاصله نه درلوده، او د انسان غوښه د روم په ويجاړ «کالوسيم» کښې خرڅيده، او عربانو وړې جنکۍ ، ژوندۍ ، خاورو کښې منډل ، او هره راتلونکې پيړۍ د تير شوې نه په فقر او وحشت کښې لا بدتره وه، او نه عيسويت ـ او نه يهوديت ـ او نه هم يوناني فلسفې ـ سره د بشريت د خلاصون کومه چاره وه ، په دغه تورتم کښې اسلام راغی او بشريت ته ئې نجات ورکړ، او خدای (جل جلاله) د سورة الإسراء په اوياوم آيت کښې ټول انسانان په کرامت کښې سره برابرکړل، او دغه کرامت ئې د دوی د هستوګنې وسيله وباله، چه په بر او بحر کښې په ازادۍ سره د خدای د نعمتونو نه خپله روزي وګټي. «و لقد کرمنا بني آدم و حملناهم في البر و البحر و رزقناهم من الطيبات و فضلناهم علی کثيرٍ ممن خلقنا تفضيلاً» (الاسراء : ۷۰). دغه ايت به د آزاد افغانستان د اساسي قانون يو اساسي رکن وي، څو چه هيڅوک ونشي کولی چه د فرد د خدای بخښلي کرامت احترام ونساتي او يا حکومتي مامور ورته په درنه سترګه ونه ګوري.

- د سيپټمبر (۲۰۰۱) د يوولسمې پلمه د مسلمانانو په کرامت باندې حمله وه، او امريکائي نشراتي، تلفيزوني، (هاليوود) سينمائي، او د پروپاګند موسسې، چه بلا استثنا د يهودو په قبضة کښې دي، د اسلام په رټلو کښې هيڅ کمی ونکړ. د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ننه په افغانستان د مخدراتو او د فحشاوو د نشرولو لمنه پراخه شوه چه په افغانستان کښې د کرامت مفهوم بې بنیاده کړي . د سپټمبر پلمه او د مخدراتو انتشار سره تړلي دي : یوه استعمار ته لاره خلاصه کړه او بل ئې دوام او بقا ته پیسې وګټلې . هر افغاني خپلواک حکومت مجبور او مکلف دی چه دا دسیسه جهاني محکمې ته وسپاري او د مجرم سره حساب وکړي ، څو چه بیا څوک اسلامي او افغاني کرامت ته په ټیټو سترګو ونګوري .

- فقر او کفر سره ملګري دي، او امریکا به بلیونونه په رشوت مصرف کړې وي خو د فقر علاج پسې نده ګرزېدلې. حال دا چه د فقر مجادله د هر شي نه ضروري ده. او ښائي چه په ډېره وسېعه پیمانه، په هره علاقدارۍ کښې، د فقر احصایوي سروی وشي چه د فقر اصلي بنه معلومه شي او د اظطراري حالت شدت او خطر تعین او ژر ورسره معامله وشي.
- د افغانستان نه بهر افغانان خصوصاً هغه چه ایران او پاکستان کښې له مجبوریته ژوند کوی د انساني کرامت څخه محروم شوي . تر څو چه دوی بیرته وطن ته ستانه شوي نوي، افغاني حکومت به د پردو تر تهدید لاندې وي . د دوی او دهغو افغانانو، چه ستانه شوي او په کمپونو کښې اوسي ، ځای پرځای کول د خپلواک حکومت په لمړنیو ډندو کښې ځای لري.
- د دوو ملیونو نه زیات په مخدراتو معتاد افغانان، دملیون نه د پاسه په جهاد کښې ژوبل شوي افغانان، او نور چه صحي رعایت ته ضرورت لري، ټولو ته ښائي چه د ضروري رعایت څخه محروم پاتې نشي او حکومت پدې واجب کښې کمی ونکړي.
- خارجي کمپنۍ ، که چیني دي او که هندي ، مجبور او مکلف دي چه د افغاني کاریګرو په شتون کښې نور کاریګر استخدام نکړي ، او که نه نو قرارداد به ئې لغو شي.
- د دولت ټول خدمتونه او کومکونه باید د عرقي، ژبني او مذهبي، تاثیر نه بهر وي. او علاقه دارۍ، چه د اداري چارو تر ټولو وړوکی یونټ دی، د خدمتونو او کومکونو د ویش دپاره د ولایتی اساس نه بهتر دی چه حکومت ئې د ویش اساس وګرزوي، او د علاقداریو اداري بنه دې تقویه شي، او منتخبې شوراګاني پکښې جوړې شي، او علاقدار به هم منتخب وي. پدې ترتیب به هم عرقي اختلاف نه تر ډېره حده ډډه وشي اوهم به په محرومیت کښې کمی راشي، او د حکمرانانو مطلقه حکمرانۍ ته به خاتمه ورکړه شي، او هر والي به د ولایتي شورا په مشوره چه د ولایت د علاقدارانو نه تشکیل شوې وي کار کوي، او پخپله به هم منتخب وي.
- انساني کرامت هلته په ځای کیږي چه انسان د ژوند د تامین دپاره چمتو شي، او په اوسنۍ عصر کښې بې تعلیمه انسان نشي کولی چه خپل ژوند تامین کړي او یا د ځان د کرامت نه دفاع وکړي. د انسان سمبالول، د معیشت د ګټلو دپاره، ښائي چه د تعلیم اصلي هدف وي، خصوصاً په دغه اظطراري مرحله کښې. ابتدائي تعلیم باید ټولو افغانانو ته میسر وي، او تدریس یواځې د هغو معلمانو له خوا وشي چه اقلاً د فاکولتو نه فارغ شوي وي. او سربیره پر دې ښائي چه دوه اضافي کلونه حرفوي زده کړو ته وقف شي څو چه د بلوغ سره مصادف یو انسان د کار بازار ته چمتو شي او ځان او کهول ته رزق ګټلي وشي.
- حرفوی موسسات به د هیواد په هر ګوټ کښې، د هرې منطقې د اقتصادي استعداد سره سم، تاسیس شي څو چه افغاني حرفوي استعدادونه په ټولو اړخونو کښې وروزي او خارجي کمپنۍ ته د افغاني کارګرو په استخدام کښې کوم عذر ونلري.
- بانکونه به ټول حکومتي وي او د پروژو په اقتصادي بررسي کښې به کامل مهارت ولري او سود اخیستل به منع شي.
- په فساد ملوث قضائي چوکاټ د استعمار هدیه ده چه ښائي له بنیاده منهدم شي، او لوی رشوتونه د وطن په حق کښې خیانتونه دي او په همدغه اعتبار باید ورسره معامله وشي.
- د آزاد افغانستان د کرامت نه به ټیته وي چه افغانستان له نورو نه چنده وغواړي ، خو د جنګ تاوان به د امریکې، ناټو ، او د روس نه غوښتونکی وی.

پر واقعیت باندې ولاړه د حل لاره :
پورتني اساسات، زما په نظر، د ټولو افغانانو د کرامت ژمنه کوی او د اظطراري حالت د علاج دپاره اساسي ګامونه دي . په افغانستان کښې باید یو اصلاحي او خیر غوښتونکی حرکت پیدا شي، چه د قدرت غوښتونکو په مینځ کښې، د غم ځپلي ملت غم وخوري، او د هغو صحنو د تکرار مخه ونیسي چه د احزابو د خونړیو جنګونو څخه شروع شوې او د طالبانو د راتګ سره هم پای ته ونرسیدې ـ یواځې تحالفات تغییر وخوړ خو وینه د پخوا په شان بهیدله.
د خیر ډله او د خیر دپاره حرکت نه سلاح ته ضرورت لري او نه د خارجیانو سره کوم تړون ته : خو دې ته ضرورت لري چه د وطن د بیوزلو غم ورسره وی، خدای باندې توکل ولري، هدف ورته روښانه وي چه د افغانستان خیر په څه کښې دی.
پیغمبر (ص) د مسلمان «بری ـ کامیابي» او «روزي ـ رزق» دواړه د ضعیفانو په کومک او لاس نیونې پورې تړلي ده: «هل تُنصَرون و تُرزَقون إلا بضعفائِكم» ؛ او د ښځو انتحار ته ، چه د مخدراتو سره غبرګ منتشر شو ، خو خامخاپه ډیر کراهیت ګوري، ځکه ویلي ئې دی (یعنی رسول اکرم) چه دی به آرام نکړي تر څو چه د دوو ضعیفانو (د یتیمانو او د ښځو) حقوق هغو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته حاصل شوي نوي: « اللَّهم إني أُحَرِّجُ حق الضعيفين ، اليتيم و المرأَة»، او د حديث اصلي معنی دا ده چه د دې دوو ضعيفانو حقوق به تل تر تله چپاول لاندي وي او د خير خلکو ته ښائي چه په مقابل کښې يوه لحظه هم ارام ونکړي.
د شريعت په اساس : د ښيوزلو په رعايت سره به افغانستان ودان شي ، لکه چه د دوی په اهمال او ظلم کښې وران شوی.

که علما او د افغانستان تعليم يافته خلک غواړي چه افغانستان د داخلي جنګ مخه ونيسي، کوم چه د استعمار په تدبير د انفجار په حالت کښې دی، نو د خير او صلاح دپاره دې اقدام وکړي. او پر دې باور ولري چه د قدرت طلبئ په بزکشئ کښې مظلومان نور هم تباه کيږي . او يوائې هغه کسان چه قدرت نغواړي کولی شي چه د تجاوزاتو مخنيوی وکړي ، او متخصم طرفونه د ګډ حکومت جوړولو ته قانع کړي، ګډ حکومت جوړ کړي، او د « ښيوزلو رفاه »، د رسول (ص) د حديث په بنا ، خپل هدف وګڼي، او د همدغه معيار په اساس ګډ حکومت ته کړندلار وټاکي .
[ چه يوه نمونه ئې ما مخکښې وړاندې کړې] .
او ګډ حکومت څخه بايد تعهد واخيستی شي چه چه دغه کړندلار به عمل کوي ، او وروسته به ورسره په همدغه اساس محاسبه وشي ، او ملت ته به د حقائقو تقرير وړاندې شي ، چه ملت د حکومت په کار او کردار پوه شي . او د اصلاح ډله به خپله دنده پديصورت په امانت دارئ سره سرته ورسوي.
لانديني ګامونه د اصلاحي حرکت د مينځ ته راوستلو دپاره ضروري دي چه هر عالم او مخور چه دغې طرحې سره موافقه لري بايد عملي ئې کړي:

١. خپل نظر دې په ډېر صراحت د دغې طرحې په باره کښې بيان کړي چه نيمګړتياوې تصحيح شي.
٢. دغه ټولنه به هلته اکمال ته ورسيږي چه محترمې خويندې او د شيعه ورونو او نورو قومونو تمثيل په ښه صورت پکښې وشي او پدې باب اقتراحاتو ته لاره خلاصه ده .
٣. د دغه اصلاحي حرکت د زعامت دپاره دې مناسب کانديدان معرفي کړې څو چه په اوله غونډه ( په وطن کښې ) د کانديدانو نه يو شخصيت په اکثريت باندې انتخاب شي او حرکت ته مناسب نوم هم وټاکي.
٤. که په افغانستان کښې د ننه په وړاندنيو اساساتو ولاړ کوم حرکت موجود وي ، نو انضمام ورسره پکار دی ، پدې شرط چه چلوونکي ئې له باري تعالی نه بغير بل چا سره اړيکې ونلري چه د خدای جل جلاله رضا پکښې نوي.

اللهم إجعل عملي كله صالحاً و أجعله لوجهك خالصاً و لا تجعل لاحد فيه شی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ